دا قرآن (په سينو کې د ساتلو په موخه) وخت په وخت ولولئ ، ځکه په هغه ذات قسم دی چې د محمد - صلی الله علیه وسلم - لاس کې دی چې دا (له انسان څخه) په تېښته کې‌روح د هغه په له هغه اوښ څخه ډېر تېز دی چې په ګونډه کې ولکه شوی وي

له ابو موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "دا قرآن (په سینو کې د ساتلو په موخه) وخت په وخت ولولئ ، ځکه په هغه ذات قسم دی چې د محمد - صلی الله علیه لاس کې دی چې دا (له انسان څخه) په تېښته کې له هغه اوښ څخه ډېر تېز دی چې په‌وسلم - روح د هغه په ګونډه کې ولکه شوی وي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرآن سره په ژمن پاتې کېدلو امر کوي چې باید وخت په وخت تلاوت کړای شي تر څو یې په سینه کې له ساتلو وروسته هېر نه کړي، پدې خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم د قسم په یادولو سره ټینګار وکړ چې قرآن کریم له انسان څخه په تللو او له سینو څخه په وتلو کې له هغه اوښ څخه ډېر تېز دی چې په ګونډه کې ولکه شوی وي؛ نو که یو سړی یې وخت په وخت احوال واخلي (تلاوت یې کړي) په واک کې به یې پاتې شي او که یې پرېښود نو تر ځې او بیا ورکېږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5907